مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۶/۰۷/۲۰

# محصلان زموږ د ټولنې ژمن او منورقشر

## او د پوهنتونو ستونزې



سريزه

د IT اوسني دوران کې زموږ يو شمېر هېوادوال له رسنيو سره بوخت دي، اما مهمه داده چې رسنۍ څه خپروي او لوستونکي څه ورڅخه اخلي ؟! چاپي او بريښنايي ميديا/ رسنۍ زياتره سياست، تاريخي پېښو، اعلانونو او خبرتياوو- تبليغاتو او تر يوې اندازې د ادبياتو برخو کې بوختې دي. راقم السطور تر ممکن بريده د ورځې ساده او د ولس ژوند سره سيده تړلي اقتصادي مسايل ليکي. مخکنيو ليکنو کې د بيکارۍ دله منځه وړلو، بېوزلۍ د کمښت( poverty reduce/eliminating poverty) او معيشت مسايل راته لومړيتوب ښکاره شو، وروسته دا دی د تعليم او زده کړو موضوع باندې له عمومياتو پيل او بيا به يوې پايلې ته ورسيږو. زده کړه د ځوانانو لومړيتوب دی، نو ځکه د مقالو دغه سلسله د ټولنې دغه فعال او انرژي لرونکي قشر ته وقف شوه.

ځوانان او د دوی دريځ

زموږ د ټولنې ديموګرافيکی جوړښت، سني ګروپونه او په مجموع کې ( population pyramid) تر نورو هېوادو حيرانوونکې توپير لري، د يو شمېر اټکلي ارقامو له مخې؛ د ټول نفوس ٪۶۰ شاوخوا ځوانان دي. د دې مانا داده چې زموږ ټولنه يوه ځوانه ټولنه ده. په هره ټولنه کې ځوانان زياتره په تحصيل بوخت او وروسته د ادارې، کار، سياست او اقتصاد ډګر ته ورځي. د ډېرو زياتو ناهيليو، بيوزلي، دتکړه ښوونکو د نشتوالي، د هېواد د تياره فضا او ناخوالو سره سره ګڼ شمېر ځوانان له ښوونځيو فارغ او پوهنتونو ته يې د شموليت آزموينه ورکړه، ګڼ شمېر ځوانان پوهنتونو ته بريالی شول. ډېر ژر به دوی د پوهنځيوبېلابېلو څانګو کې خپل مسلکي درسونه پيل کړي، خو ستونزه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا ده چې دوی همدومره هڅه کافي بولي، له دې ورهاخوا د وړاندې تګ امکان ورته نشته، آن دا چې ذهنونه تړل شوي دي.

د ښوونځي دوره او عمومي متوسط مکمل تعليمی سند (علمی سند او د علم دحاصلولو پړاو) نه دی، دا صرف تعليم دی. اصلاً مسلکي پوهه، تخصص او علمی سفر وروسته د پوهنتون له دورې پيل کيږي. يو شمېر ځوانان نا هيلي دي چې د ښوونځي دورې څخه وروسته دولتي ادارو کې کار نه ورته ميسر کيږي. دوی بايد پوه شي چې ښوونځی لوستل يواځې حکومت کې د کار او يو ناچيز معاش ترلاسه کولو لپاره نه دی، بلکې په دی سره يوځوان سواد زده، ځان او شاوخوا ټولنه پيژني، مستقل شخصيت کيږي، څه ناڅه د خپل هېواد، خلکو، تاريخ، جغرافيې،چاپيرياِل او ابتدايی رياضی، فزيک، کيميا او سانيسی پوهې سره آشنا کيږي.

په زياترو هيوادو کې له بکلوريا دورې(اوزموږ د دولسم ټولګي معادل) وروسته، د حرفو او فنونو په برخه کې د کار د مهارتونو په خاطر ځانګړي انستيتيوتونه شته. لکه د بريښنا او تخنيک، د لرګيو صنايع، د څرمن او کاغذ او کارتن صنايع، صابون او نور ديترجنتونه توليدول، دچرګانو، شاتو، وريښمو او کبانو روزنه، د سبو او خوراکی توکوپروسس... او لسګونه نورې حرفوي زده کړې چې ځوانان دوو يا دوه نيم کالو کې د کار بازار ته چمتو کوي. دغو هېوادو کې د تشبثاتو مديريت ډير نوښتګر او فعال دی، د اقتصاد څرخونه ډېر ښه ګرځوي. موږ پخوا يو شمير نيمه عالي موسسې او حرفوي انستيتيوتونه لرل، متاسفانه هغه په جنګونو کې ړنګ شول. اوس ځوانان وروسته تر بکلوريا، پوهنتون ته ځي. دا ښه خبره ده، خو نه هيروو چې اوسني وخت او يو ويشتمه پيړۍ کې يواځې حرفوي مهارت او د پوهنتون د لوستلو هيله لرل کافي نه دي. موږ لوړ علمی ظرفيت او د پوهې په ډګر کې دعلمی څېړنو سرته رسولو ته اړ ياستو، نوځکه زموږ ځوانان بايد پوهنتون د اکاډميک مرکز او د علم د زده کړې او د ريسرچ د توانايی دموندلو د مرجع په توګه پام کې ولري، چې دا موخه ډېر لږ ځوانان پام کې نيسي.

دتجربې له مخې؛ زموږ ځوانان تر دولسم ټولګي وروسته؛ خپله وړتيا، د علاقې وړ څانګه او د پرمختګ چانس نشي سنجولای، د افغانستان د پوهنتونو له پوهنځيو او د هغو له څانګو سره آشنا نه وي، دوی مطالعې سره عادت نه دي، په يوه بهرنۍ ژبه او کمپيوترد اړتيا په اندازه نه پوهيږي، د لغاتو زيرمه يې ډېره محدوده او د پوهنتون له درسي کتابونو ښه اخځ نشی کولای. آن دا چې اکاډميک دسپلين او انضباط رعايتول، د وخت مديريت، نوي ماحول کې توافق کول ورته ستونزمن وي. د ښوونځي دوره کې دا مشورې چا ورسره نه وي کړي. يو څوک مجبوريږي چې دوی ته دا مسايل مخکې تر مخکې ووايي او ويې ليکي.

هغه ځوان او پېغله چې پوهنتون ته ځي بايد دعلم حاصلول ځانته هدف وټاکي، علم وپيژنی او اهميت باندې يې پوه وي. هر ښوونځی لوستی يا د مدرسې فارغ عالم نه دی، عالم ځانګړي اوصاف لري. زموږ فارغان دې هڅه وکړي چې ځان د علميت اوچتې کچې ته ورسوي.

دلته زموږ بحث په علم او هغو علمي څانګو باندې دی، چې دهيواد او نننی عصر غوښتنه ده، خو موږ پکې پاتې راغلي ياستو، يو شمېر پوهنتوني څانګې مو محدودې، يوشمېر نورو ته د کار بازار کې تقاضا نشته، نورې د کيفيت او تجهيزاتو د کمښت له امله بی کيفيته او ريسرچ کې ناتوانه دي.

نو علم، علمي څانکې او اړتيا يې څه ده؟

علم پر تيوري ولاړ د اندازه کولو ، په ارقامو د ښودلو، اټکل کولو اوتجربه کولووړ، يوه سيستماتيکه پروسه ده چې معلومات او پوهه د فرضيو په اډانه کې سمبالوي. علمي څيړنی (Scientific Research) په وسيع افق، يونيورسل او د نړۍ په کچه او دټول بشريت په اړه دي. د ژوند اړتياوو او مشاهداتود علم ډګر پراخ کړ چې نن ورځ د ټولنيزو او طبيعی علومو برخو کې بيلابيلی نورې څانګی شته. د علم بنسټ علمی څېړنه ده چې داسې يې پيژنو:

"Research is a process of steps used to collect and analyze information to increase our understanding of a topic or issue". It consists of three steps: Pose a question, collect data to answer the question, and present an answer to the question .

دلته ګورو چې تحقيق يوه پروسه او ټاکلي قدمونه دي، خپل ميتودونه لري، په دې پروسه کې فرضيې مخې ته ږدو، ارقام راټول او تحليلوو او هغو ته انکشاف ورکوو، ترڅو د څېړنې پوښتنه ځواب شي، چې(Hypotheses and Development) يې بولي. دا به د دوو مقاصدو لپاره وي؛ يا به د تحقيق په نتيجه کې په لاس راغلی پايله تطبيقي ډګر ته ليږو(applied research) به وي، يابه د خالصې پوهې په توګه د نظرياتو په توګه ورڅخه کار اخلو، چې (research Pure) به وي. علم ترلاسه کول، څېړنه او زده کړه په پرانيستي فکر کيږي چې د انسان معلوماتو کې زياتوالی راولي او د ژوند مقاصدو ته ورباندې رسيږو.

Research can be defined as the search for knowledge, or as any systematic investigation, with an open mind, to establish novel facts, solve new or existing


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

problems, prove new ideas, or develop new theories. The primary purposes of basic research (as opposed to applied research) are documentation, discovery, interpretation, or the research and development of methods and systems for the advancement of human knowledge. Approaches to research depend on epistemologies, which vary considerably both within and between humanities and sciences .

علمي څېړنه د علمي ژوند یوه برخه ده او د واقعیتونو د موندلو لپاره پر ارقامواو شواهدو ولاړ روش (Evidence-Based Scientific Approach) چې په دې کې دشخصي نظر او بې ثبوته فرضیوپه پرتله، پریکړې او پایلې د تجربې شواهدو، کره اثباتونو او په پایلنیونه ولاړې وي. څېړنه بیلابیلې بڼې لري، لکه کیفي، کمی، نوښتیزه، اکتشافي، ...

ولی راقم السطور د متعارفو اقتصادي ورځنیو لیکنو په دوام دځوانانو او تعلیم مسئله رامنځته کړه؟

علمي پرمختګونه د چینایي ریل په سرعت( km/h1000) پر مخ ځي، آن دا چې د black hole اسرار کشف شول، د نویو څېړنو له مخې د DNAراز حیرانوونکی و، د بانکونو او لویو پانګوالودوران کې لویدلی پانګه لس په توان د لوړو اعدادو کې راځي، په لایتناهی فضا کې د شکر دمالیکولونو لیدل کیدل بله حیرانوونکې پېښه ده... دا دی وروستیو پرمختیاوو کې د چین د مصنوعی ذکاوت د نوي نړیوال نظم په پرانیستو کنفرانس( WAIC) کې حیرانوونکی ویناوې وشوې. دا نړیوال نظم د پخواني نړېوال نظم ( اقتصادي نړیوال نظم، سیاسي نړیوال نظم /د لیبرال دیموکراتانو له نظر سره سم) په دوام بل (نظم!) دی. چین ( WAICO) نظم کې ۲۹ هېوادونه او امریکا مخکې تر دې ۳۵ هېوادونه د مصنوعی ذکاوت د واحد معیار منلوکې را نغاړلي وو، د معاملاتوtransaction برخه کې bitcoin یو بل تحول دی. خو موږ لاهم د بشري مرستو په چال او نیرنګ له نوښت، کار-روزګار وتلي، درویزه، هفته واردالری بوجیو ته لاس نیولي، استقلالیت مو له لاسه ورکړ، زرخرید نوکران شولو، قدرتونه د موږ له بی کمالی زموږ کانونه لوټي او ځوانان موله وطنه په وتلو دي...

صنعتي او پرمختلی هیوادونه خپل هر نوښت نړیوالو ته یو (تاریخی فرصت) ښیي، دا په داسې حال کې چې موږ لا د غذایی مصئونیت او د معمولي ناروغیو د درملو او واکسینولرونکي شوي نه یاستو. موږ له یوې داسې تاریخي نابرابري سره مخ یاستو چې پېغلې مو تحصیل ته لاسرسی نه لري. زموږ ځوانان د حیاتي پوهې او معلوماتو لپاره له پرمختللی تکنالوژی اود ( open source) له مزیت خبر لا نه دي. پوهنتونونه د نصاب ستونزه لري او د علمي تحقیق بودجه نشته. مصنوعي ځیرکتیا د نړۍ د سیالی نوی ډګر ګرځېدلی دی، خو افغانستان؛

افغانستان کې تېرو شلو کلونو کې ښوونځیو او پوهنتونو ته ډېر پام وشو، د کمیت له پلوه پوهنتونونه زیات شول، خو د کیفیت له پلوه لاهم ستونزې وې. هر پوهنتون کې د علمی تحقیق ځانګه جوړه شوه او د لوړو زده کړو په وزارت کې د علمی تحقیق ریاست تشکیل کې اضافه شو. د ریسرچ اوریسرچ میتودلوژی زیات سیمینارونه او کنفرانسونه دایر شول. له دې پلوه د دولتی ادارو اړتیا څه ناڅه پوره شوه، ډېرو برخو کې اداراتو او سازمانو علمی څېړنې وکړې. له جمهوریت پاتې اوسنی ظرفیت دهماغو خواریو پایله ده. لاهم نور کار ته اړتیا وه، خو مخکې تر دې چې پیل شوی سیستماتیک کار پرې شي، مخکې د انقطاع اوتشیال تر پېښېدو او مخکې تر دې چې یو ځل بیا تخیلیوی اثرات ووینو، هیله ده د پوهنتونو او علمی مراکزو لوري ته پاملرنه ترپخوا هم زیاته شي. اوسني حالت کې زموږ پوهنتونونه نه یواځې دا چې ستونزې لري، بلکې نیمګړتیاوې پکې شته.

په نوره نړۍ کې پوهنتونونه بېلابېلو برخو کې تحقیقی پروژې پر مخ وړي او فارغان ریسرچ زده کوي. افغانستان کې هم د روغتیا، کانونو، اوبو، کرنې، چاپېریال پېژندنې، د اقلیم بدلون، غذایی مصئونیت، د کرنې د محصولاتو دتولید لوړلو، ارزشي زنځیر، مارکیت، پروسس، بانکي چارو، ښوونې او روزنې برخو کې علمی تحقیق ته کلکه اړتیا لري. د دغو ټولو ځانګو فارغان باید وکولای شي خپلو کاري ساحاتو کې تحقیق وکړی، ستونزې ومومي او دحل لارې ورته وښیي. نن ورځ علمي مراکز د ټولنې او نورو اړوند سازمانو د خبرتیا لپاره د خپل ریسرچ راپور خپروي، چې له مقدمې او دستونزې له ښودلو نیولې، موخو، ریسرچ میودولوژی، تېرو ادبیاتو ته کتنې، د ارقامو د ټولولو او د هغو تحلیل، تر مناقشی، بحث او وړاندیزونو پورې ټول پکې درج کوي. همدا اوس نړۍ کې هر پوهنتون علمي ژورنال لري او دولتونه په ملي بودجه کې ترټولو برخو زیاته بودجه علمی څېړنو ته تخصیصوي. پرمختللو هېوادو کې د ریسرچ پایله او هره سپارښتنه( recommendation) د عمل ډګر ته ورځي، د ځانګړې ځانګې له هر research finding ډېر ژر مماثل سازمانونه او ټوله ټولنه خبرېږي.

افغانستان کې پوهنتون ته بریالی شوی ځوان په دې مسئله ډېر نه پوهیږي او لا ورته مهمه نه ښکاري. تر دې هم مهمه دا چې پوهنتونو کې؛ په تیره بیا دطبیعي علومو ځانګو کې ریسرچ او دریسرچ وسایل او امکانات ډېر محدود دي. زموږ محصل باید پوه شي چې یواځې د والدینو په سپارښت پوهنتون ته ولاړ نشي. هغه هم په داسې فکر چې یوشمېر والدین پرته له دې چې د خپل اولاد استعداد او علاقه وپېژني، خپل اولاد مثلاً د معالجوي طب، ستوماتولوژي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او دی ته ورته ځانګو ته هڅوي. دا په دې خاطر چې دوی ته يې د استخدام زيات فرصتونه او اقتصادي اړخ مهم ښکاري. حال دا چې پوهنتوني ټولي ځانګې د ټولنې لپاره ضرور دي.
پوهنتون کې د بيلګې په توګه کومې ځانګې شته؟
د طبيعی علومو برخه کې کيميا، فزيک، بيولوژی، کرنه، اينجنيری، د وترنری علوم، کمپيوتر ساينس، رياضی، زمکپوهنه، معالجوی طب، هايدرولوجی، هايدرو متری، چاپيرپال پوهنه او دې ته ورته پوهنځی لرو، هر پوهنځی بيلابيل ديپارتمنتونه لري.
موږ افغانستان کې د طبيعي علومو برخه کې کافي ځانګې چې زموږ ورته اړتيا ده نه لرو، لکه د طبابت معاصري ځانګې، د اوبو مطالعات او د اوبو سنجول، کان پيژندنه او تفحصات، دتخنيک ډيری ځانګی، فضايی مطالعات اواسترونومی، بايوتکنالوژی، د صنعت اوکان مصئونيت او نوري ځانګې. د ټولنيزو علومو برخه کي اقتصاد، ژبې او ادبيات، حقوق، شرعيات، ښوونه اوروزنه، بدنی روزنه، اداره او پاليسی، ژورناليزم او دټولنيزو پوهنو پوهنځی لرو، خو ډيرې زياتې نورې ځانګی او پوهنځي نه لرو.
زموږ پوهنتونو کې جوړې شوې او شته ځانګې کافی نه دي. بايد موجودو ځانګو ته پراختيا ورکړو. د پوهنتونو او زده کړو کيفيت ښه کړو، علمي تحقيق دود کړو. پوهنتونونه مو بايد د تشکيلاتي او مالي استقلاليت ترڅنګ، اکاډميک استقلاليت ولري.
د دغو ټو ټکيو پوهېدل پوهنتون ته د بريالی شويو ځوانانو لپاره حتمي دي. ځوانان بايد پوهنتون ته په ځانخبري ډول ورشي. محصلان زموږ د ځوان قشر استازي دي. دوی بايد د خلکو؛ په تېره د ځوانانود ستونزو حل په علمي طريقو ومومي. محصلان يو منور او رسالتمند قشردی. د ټولنې هيلې دوی ته دي. هر حرکت کې پاک رب برکت اچوي او د خپل حال بدلول زموږ خپل کار دی. الله پاک دا پيغام موږ ته خپل سپيڅلي کلام کې دا سې رارسوي:

چا چې خپل قدر پخپله وکړ ګُله — ســــتاره د هغه قوم په عُروج شوله
خدای هم نه بدلوي حال دهغه قوم — څوک چې نه بدلوي خپل حال پخپله

هېوادوال مو زده کړو او علم ته کلکه اړتيا لري، ستونزې په پوهه او د مسلکي- تخصصي عالی تحصيلاتو لرونکو ځوانانو حل کولای شو. تر څو ځوانان د موجودو ستونزو د حل لپاره خپل عزم جزم نه کړي، د رڼا او خوشحالي څرک به ونه لګيږي.

(دوام لري)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ